SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونی کي دوه ځله خپریږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

پنځم کال څلورمه گڼه پرله پسې (۲۹۱) یکشنبه د۱٤۲۰هـ ق کال شوال المکرم (۹) د۱۳۷۸هـ ش کال د مرغومي دمیاشتي(۲٦) د۲۰۰۰میلادي کال د جنوري (۱٦)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) ډېر نږدي دی تقوا(پرهیزگاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

طي اجتماع شانداري :

اهالی شهر چغچران از تامین امنیت سرتاسري ابراز قدرداني نمودند

شهریان و اصناف مختلف شهر چغچران دیروز طي اجتماعي از فراهم نمودن صلح و امنیت و زمینه کار و فعالیت توسط مسؤولین امارت اسلامي قدرداني نموده و همکاري شانرا در جهت باز سازي کشور و صلح سراسري ابراز داشتند.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : در این اجتماع که به اشتراك دکانداران ، پیشه وران و جمع کثیري از شهریان چغچران دایر گردیده بود محترم مولوي عبدالرحمن حقاني والي ولایت غور وعده یی دیگر از مسؤلین آن ولایت نیز اشتراك ورزیده و محترم والي ولایت غور طي صحبت خویش در رابطه به پروگرام هاي عام المنفعه امارت اسلامي به حاضرین معلومات داده و به ایشان اطمینان دادند که مسؤولین امارت اسلامي در جهت فراهم آوري زمینه بهتر کار و ارتقاي سطح زنده گي مردم از هیچ نوع سعی وتلاش دریغ نخواهند ورزید.

سپس چند نفر از دکانداران پیشه وران آن شهر طي صحبتهاي شان از فراهم ص ٤

در ولایت تخار :

قوماندانان جمعیت و حزب اسلامي علیه شوراي نظار قیام نمودند

افراد شوراي نظار چندین منطقه تحت تسلط خویش را از دست داده اند

یك قطار حامیان مسعود نیز بدست مخالفانش افتاده است

در گیري شدید میان افراد گروه جمعیت به همکاري افراد حزب اسلامي با خیر محمد چریك قوماندان شوراي نظار در ولسوالي کلفگان ولایت تخار به وقوع پیوسته است .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : در این درگیري ها که ناشي از اختلافات شدید ذات البیني و بي باوري میان گروه جمعیت و شوراي نظار میباشد افراد جمعیت به همکاري محمد صفر قوماندان عمومي حزب اسلامي در برابر خیر محمد چریك یکتن از قوماندانان شوراي نظار ص ٤

د مزار شریف او شبرغان ښارونه به له برېښنا نه برخمن شي

د اندخوي خواجه دوکو په ولسوالیو او د مزار شریف او شبرغان د تیلو او گازو د چان ځاي په سیمه کي به د برېښنا د مزو په غزولو او سروي سره دغه سیمي د برېښنا له رڼا نه برخمني شي.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر را کړ په هغي کتنه کي چي د شبرغان ولایت مرستیال محترم حافظ کریم داد د ترکمنستان د هېواد د ص ٤

در ولایت هلمند گروهي از قماربازان بالفعل دستگیر گردیدند

مؤظفین ریاست امر بالمعروف و نهي عن المنکر ولایت هلمند دیروز گروهي از قمار بازان را در مربوطات آنولایت بالفعل دستگیر نمودند.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : مؤظفین ریاست امر بالمعروف ولایت هلمند به سلسله فعالیت هاي متداوم شان در امر جلوگیري از منکرات و مفسدات دیروز بیست نفر از قمار بازان را که در مربوطات ص ٤

محترم کفیل ولایت خوست از مناطق سرحدي آن ولایت دیدن نمود

محترم کفیل ولایت خوست ضمن بازدید از مناطق سرحدي آنولایت در اجتماع اقوام و قبایل سرحدي آنولایت اشتراك ورزید .

آژانس اطلاعاتي ص ٤

د اطلاعاتو او کلتور محترم وزیر له بي بي سي راډيو سره په مرکه کي :

کومي سیمي چي د افغانستان د اسلامي امارت تر واك لاندي دي هلته بشپړ امنیت تامین دي

د افغانستان د اسلامي امارت د اطلاعاتو او کلتور محترم وزیر له بي بي سي راډیو سره په مرکه کي د هغو افواهاتو په اړه چي گواکي په کابل کي ښاریان له امنیتي ستونزو سره مخامخ دي وویل : کومي سیمي چي د اسلامي امارت په واك کي دي هلته امنیت تامین دي خاصتاً د کابل په ښار کي .

یواځي هغه پیښه چي تیره ورځ د صرافي په مارکیټ کي را منځ ته شوي چي د هغه په ترڅ کي مارکیټ متضرر شوي او غلا تري شوي پدي اړه د عالیقدر امیر المومنین لخوا تهولو مسؤلینو ته هدایت ورکړل شوي چي د پیښي عاملین تعقیب او هغوي دستگیر کړي .

نور الحمد لله د کابل ښار په ټولو برخو کي خیر و خیریت امن او امان دي.

په چین کي سختي زلزلې شوي دي

دچین په جنوب لویدیځ کي دوه سختي زلزلي شویدي چي دلومړنیو رپوټونو له مخي دهغو له امله دري تنه مړه او نژدي دیرش تنه ټپیان شویدي.

دزلزله پیژندونکو په وینا لومړنی زلزله د ریکټر د شپږو درجو په سختوالي د ساوي دایالت دهاوون په سیمه کي شویده او نوي دقیقي وروسته دریکتر دشپږو اعشاریه پنځو درجو په سختوالي بوه بله قوي زلزله وشوه چي زیاتي ماني بي نړولي او داوبو رسولو سیستم یي له منځه وړیدي .

د روسي او امریکا پر اړیکو کي توپان ولگید

د روسیي د بهرنیو چارو وزیر په امریکي تور ولگاو چي په واشنگټن کي له جگ پوړي چیچنیایي استاځي سره تماس نیولو سره یي په چیچنیا کي د ترهگرو خوا نیولی ده د روسیي پوځ د غیر انساني تکتیکونو په نتیجه کي چیچنیا کي ملکي خلکو ته د مرگ ژوبلي په باب تازه رپوټونه رسیدلي دي د جگړي د بندولو لپاره په مسکو باندي فشار مخ په زیاتیدو دي د اروپا یو ټلوبیت هیوادو شورا د جگړي د بندیدلو غوښتنه کړي ده . په چیچنیا کي د جگړي له لومړي کربټي نه تر لاسه شوي رپوټونه وایي چي په گروزني او شاوخوا سیمو کي روسي ځواکونو تور ډېر ملکي کسان هم وژلي دي روسي ځواکونه هري خوا لاس او پښي اچوي چي وښیي جگړه دوي گټلې ده د گروزني ختیځ ته خان کالا کي میشته خلك وایي د دوي دیرش کسان هغه وخت ووژل شول چي روسي ځواکونو په دغه ښار گوتي باندي چپاو وکړ پرته له دي چي ملکي کسانو ته د تیښتي موقع ورکړي روسیي د لویدیځ سره د جدي ترینگلتیا ته گواښ را منځ ته کړي دي.

جنگ میان مجاهدین چیچن و اشغالگران روسي ادامه دارد

در گروزني پایتخت چیچن جنگ هاي بسیار شدید در میان مجاهدین چیچن و سربازان اشغالگر و مهاجم روس همچنان ادامه دارد .

سربازان اشغالگر روس با وجود تسلیحات پیشرفته بمباردمان هاي بي وقفه زمیني و هوایي موفق نگردیدند گامي بسوي مواضع مدافعان جان بر کف چیچن بردارند. این بمباردمان ها و حملات وحشیانه نیرو هاي روس که هیچگونه هدفي نمي شناسند باعث فرار صد ها هزار چیچیني ص ٤

رئیس حزب الله لبنان :

تهدیدات اسرائیل بالاي ما اثري نخواهد داشت

حسن نصر الله رئیس حزب الله لبنان در پاسخ به تهدید هاي ایهود بارك صدراعظم اسرائیل گفت : این تهدید ها بالاي عملیات و مبارزات حزب الله لبنان اثري ص ٤

کانون علوم محمود هوتکي با داشتن استادان مجرب مسلکی در خدمت دانش آموزان قرار دارد

شریعت : خوانندگان عزیزا خبرنگار ما از کورس آموزش علوم و لسان انگلیسي محمود هوتکي دیدن نموده و با محترم استاد محمد رحیم مسؤول و- متصدي آن کورس مصاحبه یي را انجام داده است که توجه شما را به گزارش آن معطوف میداریم.

در آغاز موصوف خود را چنین معرفي نمودند : نام من محمد رحیم فرزند حاجي فیض- محمد خان میباشم . تحصیلات عالي خویش را در رشته فزیك و ریاضي پوهنځي ساینس پوهنتون کابل به پایه اکمال رسانیده ام نامبرده ص ٤

حکومت اسرائیل به یك شرکت طیاره سازي امریکا :

فرمایش پنجاه طیاره جنگي را داده است

حکومت اسرائیل به یك شرکت اسلحه سازي امریکایي فرمایش پنجاه طیاره جنگي از نوع اف ١٦ را داده است .

به قول وزارت دفاع ایالات متحده امریکا این سفارش خریداري طیاره هاي جنگي ارزش دو اعشاریه شش ملیارد دالر را دارد .

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

سوء استفادهء مخالفین از کمك هاي انساني

مداخله و تجاز روسها به افغانستان و پیامد هاي ناگوار آن در طول بیست سال گذشته مشکلي است که نیازي به توضیح ندارد. جهانیان میدانند که این تجاوز زیر بناي اقتصادي یك کشور عقب مانده در جهان سوم را یکسره نابود ساخت و امروز کار بجایي رسیده که بدون کمك هاي بشردوستانه سازمان هاي خیریه بین المللي مشکلات اقتصادي مردم از آنچه که هست بمراتب بیشتر خواهد شد.

امارت اسلامي افغانستان همیشه از کمك هاي انساني و بشردوستانه مجامع بین المللي به مردم نیازمند در افغانستان استقبال نموده و براي مؤسسات مربوط زمینه هاي لازم را براي کار و فعالیت مثمر تر فراهم ساخته است. وجود امنیت مطمئن در مناطق تحت کنترول امارت اسلامي مجال و امکان فعالیت ص ٢

د ایکوادور پرچارواکي به هغه هیواد اعتراضونه نښي زغملي

دایکوادور مقاماتو په ټول هیواد کي دیرش زره تنه سرتیري سمبال کړیدي چي دهغو حکومتي ضد اعتراضونو مخه ونیسي چي تاکل شوي ده نن تر سره شي.

پولیس او امنیتي ځواکونه په کیټو کي دجمهوري ریاست دماڼي په شاوخوا کي ځاي پر ځاي شوي چي دغي ماڼي ته دمظاهره کوونکو له نژدي کیدو څخه مخنیوي وکړي.

په ایکوادور کي دغه حکومتي ضد مظاهري چي ددغه هیواد داصلي اوسیدونکو لخوا رهبري کیږي دکولمبیا ٤ مخ

تکواندو احساس جوانمردي و متانت را در جوانان تقویت مي بخشد

شریعت : علاقمندان محترم ورزش! خبرنگار ما از کلپ تکواندوي حیدري دیدن نموده و با محترم آرین «خیبر» استاد و مسؤول آن کلپ مصاحبه یي را انجام داده است که توجه شما عزیزان را به خوانش آن فرا میخوانیم.

در آغاز محترم آرین خیبر در مورد سابقهء ورزشي خویش گفتند : نظر به شوق و علاقه زیاد که به ورزش تکواندو داشتم تحت نظر استاد ضیاء الحق بخشي رئیس انجمن تکواندوي حیدري در سال ١٣٦٦ به فعالیت هاي ورزشي آغاز نمودم، در سال ١٣٧٢ نظر به لیاقت و شایستگي خاصي که در تم جوانان از خود نشان داد از طرف فدراسیون تکواندوي افغانستان و هیأت کوربایي به اخذ کمر بند سیاه «پوم» که براي ص ٤

ریچارد هوبروك داندونیزیا پوځ ته اخطار ورکړ

دامریکا دمتحده ایالاتو دایمي استازي ریچارد هوبروك په ټینگه داندونیزیا وسله وال پوځ ته خبرداري ورکړیدي چي ددغه هیواد دمنتخب ملکي حکومت په خلاف له هر ډول اقدام نه ډډه وکړي..

ده په نیویارك کي داندونیزیایي خبریالانو په وړاندي د وینا په ترڅ کي وویل د امریکا متحده ایالات په اندونیزیا کي ٤ مخ

جراحان فرانسوي موفق به پیوند دو دست یك مریض گردیدند

جراحان فرانسوي براي اولین مرتبه موفق گردیدند همزمان دو دست یك نفر را که در یك حادثه از دست داده بود پیوند زنند.

در جریان یك عملیات جراحي نادر بالاي یك معیوب که دو دست ص ٤

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
دبوي ګڼي بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداری
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤۰۳۸۵ / ۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

بقیه سرمقاله

هاي بیشتر را براي مؤسسات خیریه فراهم آورده است در حالیکه در مناطق تحت سلطه تفنگداران مشمرد به اصطلاح (ائتلاف شمال) این مؤسسات در فعالیت هاي خویش به مشکلات فراوان مواجه اند. گدامهاي مواد امدادي آنان بار بار به تاراج رفته و هر تفنگدار به میل خود خویش را در مواد امدادي که اصلاً براي مردم غیر نظامي و نیازمند کمك در افغانستان مساعدت گردیده است مستحق سهم مي دانند.

جهانیان شاهد اند که هر بار که سازمانهاي امداد بین المللي براي ارسال مواد مورد ضرورت مردم به مناطق تحت سلطه مخالفین از امارت اسلامي افغانستان طالب کمك و همکاري گردیده اند امارت اسلامي نظر به مشي انسان دوستانه و مبتني بر اساسات دین مبین اسلام از همکاري و مساعدت لازم در جهت انتقال مواد مورد ضرورت به مردم نیازمند دریغ نورزیده است زیرا ما به این باوریم که مردم این مناطق را نباید در قطار افراد مسلح مخالفین شمار نمود. مردم مسلمان این مناطق در چنگ مشتي افراد مسلح بي بندو بار و دشمن ملت و وطن بشکل گروگان گرفتار شده اند و بنا بر این باید به آنان کمك صورت گیرد ولي مقامات مسؤل امارت اسلامي همیشه روي این نکته تاکید داشته اند که از این کمك هاي بشر دوستانه نباید در جهت تداوم جنگ علیه امارت اسلامي بهره برداري صورت گیرد.

در گذشته چندین بار رسانه هاي گروهي در سطح بین المللي این نگراني امارت اسلامي افغانستان را بشکل غلط توجیه نموده و چنین تبلیغ نموده بودند که گویا امارت اسلامي به کمك انساني به مردم چنان مناطق مخالف است در حالیکه امارت اسلامي همیشه خواهان آن بوده است که کمك بشر دوستانه باید واقعاً بدست افراد مستحق و غیر نظامي برسد و درین مورد باید مؤسسات امداد از دقت کامل کار گیرند.

چندي قبل یکي از قوماندانان مشهور ولایات پروان و کاپیسا یعني قوماندان (آغا شیرین سالنگي) به نیرو هاي امارت اسلامي پیوست . اظهارات وي در رابطه با سوءاستفاده مخالفین مسلح امارت اسلامي افغانستان در پنجشیر از کمك هاي بشر دوستانه مؤسسات امداد بین المللي به نفع تفنگداران این گروه قابل دقت و توجه است .

قوماندان (سالنگي) اظهار داشت که مهاجرین شمالي که به پنجشیر پناهنده شده بودند اکنون از دره پنجشیر خارج شده اند و در شرایط فعلي بیش از چند صد نفر از آنان در پنجشیر باقي نمانده است اما کمکي که براي حدود شصت هزار نفر به پنجشیر فرستاده مي شود در هر قریه بالاي خانواده هایي تقسیم مي- شود که افراد آنان در صف افراد مسلح گروه مسعود در گیر جنگ با نیرو هاي امارت اسلامي افغانستان اند.

در حقیقت این کمك ها نه براي مهاجرین شمالي بلکه براي خانواده هاي افراد مسلح مسعود توزیع مي شود و سازمانهاي امداد نیز در تشخیص این افراد به معلومات کساني متکي اند که آنها وابسته به گروه مسعود اند.

اگر این سخنان را کسي بر زبان مي آورد که با مردم شمالي رابطه نمي داشت میتوانستیم این سخنان را نوعي غرض ورزي یا دشمني تلقي کنیم ولي وقتي یك قوماندان که خود منطقه را از نزدیك دیده و با مردم آزادانه سخن گفته و مشکلات آنانرا بعنوان یك قوماندان از منطقه شمالي شنیده است بصراحت مي- گوید که (این کمك ها به مردم مستحق شمالي نمي رسد [illegible]) روشني به مؤسسات امداد دارد .

بنظر ما موفقیت یك مؤسسه خیریه بین المللي این نیست که اعلام بدارد که فلان مقدار مواد امدادي را به فلان نقطه از افغانستان رسانیده است مسئله امداد همانگونه که خود سازمان هاي خیریه نیز به آن اذعان دارند در کشور هاي درگیر جنگ داخلي مسئله بسیار حساسي است و اگر در توزیع آن دقت لازم بکار نرود تأثیرات منفي آن از تأثیرات مثبت آن بمراتب بیشتر خواهد بود.

(کمك بشر دوستانه) اگر به دوام جنگ کمك کند دیگر نمیتوان آنرا بشر دوستانه خواند و عدم دقت در توزیع کمك اصل بیطرفي سازمان هاي خیریه را نیز زیر سوال برد و چه بسا که آنها را در معرض اتهام به جانبداري از یك جهت درگیر علیه جهت دیگر قرار میدهد .

البته ما به این باور نیستیم که سازمانهاي خیریه یي که به پنجشیر کمك مي رسانند همه نیت سوء دارند. تصمیم نیت سؤ به (همه) از آنجا درست نیست که ما عملاً مي بینیم که بسیارند کسانیکه با اخلاص تمام قصد رساندن کمك را به مردماني واقعاً (نیازمند) دارند ولي آنچه که ما از این دست اندر کاران امداد تقاضا داریم اینست که در تشخیص خود دقت بیشتر بخرج دهند و زمام امر تشخیص مستحق را به مخالفین امارت اسلامي واگذار ننمایند.

از آنجا که اکثریت عظیم مهاجرین از پنجشیر خارج شده اند لازم است تا یك سروي دقیق و مجدد صورت گیرد و بعداً به امر ارسال و توزیع کمك اقدام شود تا این اطمینان حاصل گردد که کمك واقعاً به مهاجرین مستحق شمالي درپنجشیر صورت میگیرد نه به افردا مسلح درگیر جنگ .

یتي پاني

شهرت ننګیال

داستاد شوق

استاد سیاف دتیر کمکی اختر په مناسبت خپل پیغام دهوا څپو ته سپارلی - دده پیغام طبق معمول دافغان مجاهد ولس په نوم خپور شوی ، دا چې له کومه ځایه خپور شوی نه په پیغام کی څه ویل شوی او نه د وحدت او سهار ورځپاڼو علم هغی ځای ته رسیدلی دی.

ښاغلی سیاف هم لکه پخوانی پاچا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه ، دافغانستان مجاهد ولس ایله په دوو اخترونو او نوی کال کی په زړه اوری چی څو تکراری او کلیشه تکی او جملی یی له سره لوګی کړی او خبره په خیر ماوخیر شما پای ته ورسیږی .

استاد سیاف په خپل پیغام کی یو وضاحت کړی او افغان مجاهد ولس یی په خپله بوه څرګندونه نازولی دی ، ده ویلی چی دمسلمانانو ترمنځ دجګړی شوق نلری ، خو دا خبره یی بیا هم پټه ساتلی چې دځه شی شوق لری - اته کاله په افغان مجاهد ولس په جګړو او مرګ ژوبله کی تیر شول چې ایله په ایله یی دسیاف صاحب له خوا دمسلمانانو تر منځ دجګړی دشوق نلرلو زیری واورید ، دا په نو بیا څو کاله دغه جګړی او د ربدری چلیږی چې دده د اصلی شوق په راز او کنهه دافغان مجاهد ولس سر خلاص شی ، یا لا یا نصیبه .

سیاف صاحب په افغان مجاهد ولس دا مهربانی هم کړی چی ویلی یی دی د بوه مسلمان له بو ځاځکی وینو توبولو کر که لری - بدګومانی بنه نه ده او د زړونو مالک خدای (ج) دی که نه نو سړی ته دا شک پیدا شی چی ګنی سیاف صاحب د ډیرو مسلمانانو له ډیرو وینو توبولو سره مینه لری ځکه په افغانستان کی د استاد داندیوالانو له لاسه دډیرو مسلمانانو ډیری وینی توییږی .

استاد په خپل پیغام کی دخپلی بدی ورځی یادونه هم کړی چی له اولادونو لیری په سختو شرایطو کی ژوند تیروی دا ځکه چي دده په وینا دافغانستان دهغه ستر او عظیم جهاد اهدافو ساتنه کړی چي دوستانو او دښمنانو ټولو خپلی او تکولی دی.

مورد استاد په بده ورځ خوا بدی یو او دعا کوو چی الله تعالی یی له خپلوا ولادونو سره یو ځای کړی - راغلو دستر او عظیم جهاد داهدافو دساتنی خبری ته که د سرامن وی دده ستر او عظیم جهاد له اهدافو سره دا خیانت کړی چا دی ؟

که محترم سر خپل ګریوان ته کړی او دلږ شیبی لپاره هم پدغه تکی غور وکړی نو دا قندار د شوق او هوس له سرنه به دستر او عظیم جهاد دسپیځلو اهدافو سوداګر بویو ورته مخی ته شی - او په غیریدلو به و ګوری چې دستر او عظیم جهاد له اهدافو سره چا خیانت وکړ او چا هغه ستر او عظیم جهاد په بوه فاجعه واړاوه .

سیاف صاحب بله خبره دا کړی چي دپاچاهی شوق نلری خو بیا یی هم دانه ده څرګنده کړی چي دده شوق له څه او کومی بلا سره دی چې دی یی دا څو کاله له اولادونو لیری د جبل السراج او تالقانو په سمڅو او غارونو کی ایسار کړی دی.

لدی سره یی دا خبره هم را برسیره کړی چې دی د چا د پاچاهی دساتنی لپاره هم دلته نه دی ناست ، دده مجاهد ولس څه پوهیږی چې استاد چیری ناست دی چې بیا پر دی قضاوت وکړی او له ده سره دا خبره ومنی چي دی دچا د واکمنی دساتنی لپاره هلته ناست دی یا نه دی ناست .

دا خبره که څوک منی که نه زه یی ور سره منم او استاد پدی کی ریښتونی ګڼم ، ځکه پاچاهی ده کوم ځای چې استاد یی وساتی - که پاچاهی او واکمنی له ربانی صاحب او آمر صاحب سره وای هلته بیا داپوښتنه راولاړیدای شو چي سیاف صاحب دچا دپاچاهی لپاره پیری کوی که دبل څه لپاره ؟

خبره همدلته ده چي پاچاهی شته نه او سیاف صاحب یی ځان په پیرو اوساتنه تک شین کړ .

سیاف صاحب په پای کی ویلی : الله تعالی ښه پوهیږی چي ددغه خونړی جګړی دپیل مسوولیت دچا پر غاړه دی - دی داګنی چي ګواکی دده پروینا افغان مجاهد ولس په دی لانه دی پوهیدلی ، افغان ولس ښه پوهیږی چي ددغی جګړی مسوولیت دجبل السراج دکر غیرن ائتلاف دپهلوانانو او چلوونکو پر غاړه دی چې د ولس په وینو ګټلی آزادی او عزت یی ددښمنانو په پښو کی قربانی کړ ، داسی چې ښاغلی استاد یی هم ورسره دغرو کړ.

دالوتکو تښتونې نړیوالې پیښې

داکتر احمدزي

دالوتکو تښتونی هڅی چی په تیره میلادی پیړی کی د نړی په کچه د خاصو موخو د ترلاسه کولو لپاره د ځینو کسانو او سیاسی ډلو لخوا تر سره شوی د ناپیژندل شویو کسانو په لاس د هندوستان د هوایی کرښی د یوی الوتکی د تښتونی په بریالی هڅی سره څلور دیرشو پیښو ته ورسیدی ، تو موری هڅی لمړی ځل په ۱۹۳۱ کال کی د پیرو د یوی الوتکی له تښتونی سره پیل او د هندی الوتکی د تښتونی له پیښی سره یی د شلمی پیړی په وروستی ماښام په تیره سلیزه کی د پای ټکی وسوند. د نړی په سطحه تر اوسه څلور دیرش الوتکی تښتول شوی چي په لاندی ډول ترینه یادونه کیږی .

په نړیواله سطحه لمړی ځل په ۱۹۳۱ م کال کی د سویلی امریکی د یوه هیواد (پیرو) یوه الوتکه وتښتول شوه د آسیا په لویه وچه کی د ۱۹٤۸م کال د جولای په میاشت کی لمړی ځل د څلورو چینایی او سیدونکو لخوا هانکانګ ته تلونکی د کیتهی پاسفیک یوه الوتکه وتښتول شوه خو د پیلوت د مرستیال او په خپله د پیلوت د مقاومت له کبله تښتونکی اړ شول چی دوی دواړه ووژنی او په نتیجه کی الوتکه سره له سپرلیو سمندر ته ولویده په کال ۱۹۵۸ م کی د کیوبا یوه الوتکه وتښتول شوه وریسی په ۱۹٦۱ کی د پخوانی شوروی اتحاد یوه الوتکه وتښتول شوه چی تفصیلات یی لا تر اوسه هم څرګند نه شول.

د ۱۹٦۸ په جولای کی دری تو عربی ځوانانو د اسرائیلو یوه الوتکه وتښتوله او په الجزایر کی یی کوزه کړه د ۱۹۷۰ په سپتمبر کی فلسطینی مجاهدینو دری الوتکی وتښتولی او عمان ته یی بوتلی هلته یی دری واړه الوتکی وچودولی او د الوتکو سپرلی یی د فلسطینی بندیانو په بدل کی خوشی کړی . د ۱۹۷٤ په سپتمبر کی د ویتنام یوه الوتکه وتښتول شوه او د بم په چاودنی سره توټی توټی شوه چي په کی سپاره اویا تنه مسافر هم ووژل شول د ۱۹۷٦ په جولای کی د فرانسی یوه الوتکه وتښتول شوه او په یوګندا کی را کوزه کړای شوه په نوموړی الوتکه کی ۲۵٦ تنه سپاره و د الوتکی تښتونکو پرته له ۱۰۵ تنه اسرائیلی او یهودی مسافرو نوره سورلی خوشی کړه ، خو د اسرائیلی کماندوګانو د حملی په نتیجه کی د الوتکی تښتونکی ووژل شول ، په دی بریدی کی دری تنه سورلی هم ووژل شوه د ۱۹۷۷ په سپتمبر کی پنځو تنو جاپانیانو د جاپان یوه الوتکه چی ۱۵٦ تنه سورلی په کی وه وتښتوله او د ډاکې په هوایی ډګر کی یی کښته کړه د خبرو په نتیجه کی د تښتونکو غوښتنی ومنل شوی او څو تنو بندیانو د خوشی کیدو او د یوی اندازی نغدو پیسو په بدل کی مسافر او الوتکه پریښودل شول او د الوتکی تښتونکی الجزایر ته ورسول شول. د ۱۹۷۷ م کال د اکتوبر په دیرسم څلورو تنو فلسطینی مجاهدینو د جرمنی یوه الوتکه وتښتوله او د خپلو غوښتنو د پوره کیدو لپاره یی پنځه ورځی موده کینوده وروسته له پنځو ورځو چی د هغوی غوښتنی ونه منل شوی نو د الوتکی پیلوټ یی وواژه ، د جرمنی کماندو عسکرو د موګه دیشو په هوایی ډګر کی نوموړی ناستی الوتکی باندی کماندویی برید تر سره کړ چې په پای کی یی تښتوونکی ووژل شول او د الوتکی سپرلی خوشی شوی . د ۱۹۷۸ په فبروری کی دوو تنو عربانو د مصر یوه الوتکه تښتوله او قبرص ته یی بوتله ، مصری کوماندوګان سیمی ته واستول شول چی له تښتونکو سره تر پنځه دیرش دقیقو جګړی وروسته ، تښتونکی ووژل شول او پنځلس تنو مصری اوسیدونکو هم خپل ژوند له لاسه ورکړ . د ۱۹۸۵ م کال د جون په میاشت کی دوو تنو لبنانی ځوانانو د امریکی یوه مسافر وړونکی الوتکه وتښتوله او د آتن په هوایی ډګر کی یی کوزه کړه په نوموړی الوتکه کی ۱۵۳ تنه مسافر سپاره و امریکایی کماندوګانو په الوتکی برید وکړ په پایله کی د یوه امریکایی عسکر او دوو تنو الوتکی تښتونکو په مرګ دغه غوغه وسپړل شوه او پیښه پای ته ورسیده د ۱۹۸۵ په نوامبر کی فلسطینی سرتیرو د مصر یوه الوتکه وتښتوله او مالتا ته یی بوتله مصری کماندو عسکرو هلته پر الوتکی برید وکړ چي په نتیجه کی یی ۵۹ تنه ووژل شول.

د ۱۹۸٦ د سپتمبر په پنځمه یوه پان امریکن ۷٤۷ ډوله بوئینګ الوتکه تر یرغمل کیدو وروسته د کراچی هوایی ډګر ته بوتلل شوه په الوتکه کی ٤۰۰ تنه سپاره و د پاکستانی پوځی ټولګیو د عملیاتو په نتیجه کی پیښه د ۲۲ تنو په مرګ پای ته ورسیده . د ۱۹۸۸ د اپریل په پنځمه څو تنو عربانو یوه کویتی الوتکه وتښتوله او د الجزیری پر هوایی ډګر یی کوزه کړه د پوځیانو د عملیاتو په نتیجه کی الوتکه خلاصه شوه خو دوه تنه کویتی اوسیدونکی په کی ووژل شول.

د ۱۹۹۰ م د جنوری په ۲٦ څلورو تنو وسله والو د ایران د هوایی کرښی د یوی ۷۲۷ ډوله بوئینګ الوتکی د تښتولو هڅه وکړه خو په هوا کی د الوتکی د امنیتی چارواکو د سرښندنی له برکته څلور واړه تښتوونکی ووژل شول او الوتکه سره له سپرلیو له غمه خلاصه شوه .

همدارنګه د ۱۹۹۰ د اګست په ۲۰ روسی وسله والو د روس یوه الوتکه وتښتوله د کراچی ، پر هوایی ډګر یی کوزه کړه او د سیاسی پناه په اخیستلو یی پیښه پیښه پای ته ورسوله . د ۱۹۹۰ د اکتوبر په دوهمه یوه چینایی مسافر وړونکی الوتکه وتښتول شوه په الوتکه کی ۱۰٤ تنه سپاره و الوتکه د کوانګ زار پر هوایی ډګر د کوزیدو پر وخت له کرښی ووته او له ځمکی سره وجنګیده چي په نتیجه کی ۱۲۸ تنه ووژل شول د ۱۹۹۰ د اکتوبر په لسمه دوو تنو برمایی وسله والو د تایلند یوه الوتکه وتښتوله او په کلکتی کی یی کوزه کړه او هلته یی ځانونه امنیتی مقاماتو ته تسلیم کړل د ۱۹۹۱ په مارچ کی پاکستانی اوسیدونکو د سنګاپور یوه الوتکه سره له ۱۲۳ تنه سپرلیو وتښتوله چي د سنګاپور د کماندوګانو د برید په نتیجه کی یرغمل نیوونکی ووژل شول .

د ۱۹۹٦ د نومبر په ۲۳ د ایتوپیا یوه الوتکه چی پنځوس تنه په کی سپاره و وتښتول شوه الوتکه د هند سمندر ته ولویده او ټوله سپرلی یی له منځه ولاړه .

د ۱۹۹۷ د مارچ په لسمه یوه تن تایوانی خبریال د الوتکی په منځ کی په ځان پطرول وپاشل ا و الوتکه یی په چین کی کوزیدو ته اړ ایستله چي همدا سی هم وشول . د ۱۹۹۸ د مارچ په ۲٦ دری تنو د پی آی ای یو الوتکه وتښتوله پاکستانی کماندوګانو د هندی پوځونو دریشی او جامی واغوستی او یرغمل نیوونکو ته یی ځانونه هندی عسکر وښودل او هغوی ته یی د پناه ورکولو یقین ورکړ په نتیجه کی یرغمل نیوونکو ځانونه هغوی ته وسپارل او پیښه پای ته ورسیده د ۱۹۹۸ د جون په ۲۳ یوه تن وسله وال یوه الوتکه سره له ۱۳۱ تنو سپرلیو وتښتوله او په اسپانیا کی یی کوزه کړه ، وروسته یی ټول یرغمل کسان خوشی کړل او ځان یی هم تسلیم کړ (هسی یی ځان پر نړیوالو پیژانده)

د ۱۹۹۸ په سپتمبر کی یوه تن د ترمانچی په نیوولو سره د ترکیی یوه الوتکه وتښتوله او بیایی بیرته خوشی کړه او ځان یی هم تسلیم کړ د ۱۹۹۸ د اکتوبر په ۲۸ یوه چینایی پیلوت خپله الوتکه وتښتوله او پر تایوان کی یی کوزه کړه ده له خپل ځان سره خپله میرمن هم بوولی وه او د خپل دی اقدام دلیل یی د کمونیزم تر سیوری لاندی له ژوند څخه کرکه وښودله .

د ۱۹۹۹ د اپریل په دولسمه نیټه د کولمبیا د هوایی کرښی یوه الوتکه وتښتول شوه د همدی کال د جولای په ۲۳ یوه وسله وال کس د جاپان د هوایی کرښی د یوه الوتکه چی ۵۱۷ تنه په کی سپاره و له هوایی ډګر څخه د پورته کیدو پر وخت د یرغمل نیولو هڅه وکړه هغه یو تن پیلوت هم ووژاه خو په خپله هم وونیول شو . د ۱۹۹۹ د اکتوبر په نهمه یوه مصری الوتکه قاهری ته د تګ پر وخت وتښتول شوه او لندن ته ولیږدول شوه او وروستنی پیښه د ۱۹۹۹ کال د دسمبر په ۲٤ وه چی پنځو تنو وسله والو د اندین ایرلین یوه الوتکه د کتمندو او دهلی تر منځ د پرواز پر وخت وتښتوله او تر څه هوایی او ځمکنی سیل او چکر وروسته یی د کندهار پر هوایی ډګر راکوزه کړه چي په پای کی د افغانستان داسلامی امارت د چارواکو ، هندی حکومتی استازو او یرغمل نیوونکو د اوږدو خبرو اترو په نتیجه کی

پیښه په سوله ایزه توګه پای ته ورسیده د یرغمل نیوونکو په غوښتنه دری تنه کشمیری مجاهدین له هندی بندیخانو څخه آزاد شول او الوتکه هم سره له سپرلیو پریښودل شوه او بالاخره په دی ډګر کی

تر ټولو وروستی خبر د یوولس تنو اسرائیلی وسله والو د هڅی رسوا کیدل دی چی غوښتل یی د بنګله دیش یوه الوتکه له کلکتی څخه **ډاکی ته د الوتلو پر مهال یرغمل کړی چی نوموړی هڅه پخوا له پلی کیدو رسوا او شنډه شوه .**

ستم ستيزى در شعر نظامى گنجوى

«وحيده مژده»

حكيم نظامي گنجوي را بدون ترديد ميتوان يكي از بزرگترين سخنرانان زبان دري دانست و در ميان شاعران عاليمقام اين زبان تعداد كسائي را كه بتوان با وي مقايسه كرد و همسنگ شمرد شايد به تعداد انگشتان يك دست نيز نرسد.

نظامي در سرودن مثنوي سخن را به اوج كمال رسانيد و در داستان سرايي بزبان موزون شعر سبك جديد و بديعي را بنياد نهاد كه قبل از وي سابقه نداشت .

نظامي در نيمه اول قرن ششم هجري قمري بدنيا آمد. آثار وي كه بنام خمسه نظامي نيز معروف است عبارتند از : مخزن الاسرار، خسرو و شيرين، ليلي و مجنون ، هفت پيكر و اسكندر نامه.

وفات نظامي در يكي از سالهاي اخير قرن ششم اتفاق افتاد.

* * *

نظامي شاعريست كه در مدح شاهان معاصر خويش نيز سخن گفته است ولي در ضمن مداحي به مذمت از ستم و ستمگري پرداخته و نكوهش از ظلم را بشكل اندرزوپند به شاهان و قدرتمندان معاصر خويش عرضه داشته است. در عدل و نگهداري انصاف شاهان را به اطاعت از اوامر خداوند «ج» فرا- مي خواند :

چاره، دين ساز كه دنيات هست
تا مگر آن نيز بياري بدست
دين چو بدنيا بتوانى خريد
كن مكن ديو نبايد شنيد

* * *

كار تو پروردن دين كرده اند
داد گران كار چنين كرده اند

نظامي عدالت را موجب قوام دولت مي داند و ميگويد كه چون مردم از نظام راضي باشند دولت دوام و استحكام مي يابد و بر عكس ستم و ظلم مايه خرابي دولتست خدمت مردم و آبادي مملكت وظيفه فرمانرواست .

رسم ستم نيست جهان يافتن
ملك بانصاف توان يافتن
هرچه نه عدلست چه دادت دهد
و آنچه نه انصاف ببادت دهد
عدل بشيريست خرد شادكن
كارگري مملكت آباد كن

مملكت از عدل شود پايدار
كار تو از عدل تو گيرد قرار

در جاي ديگر نظامي داستاني در مذمت از ظلم مي آورد. اين داستان نيز با قلم سحر آميز حكيم گنجه چنان استادانه تصوير مي شود كه انسان را به تحسين وا مي دارد .

داستان چنين است كه روزي انوشيروان از شهر بيرون مي رود و به جستجوى شكار به دهي ويران مي رسد . از قضا در گوشه يي از ديه دو مرغ با هم در گير جنگ اند. انوشيروان از وزير مي پرسد كه دليل جنگ اين دو مرغ چيست ؟ وزير در جواب مي گويد كه مخاصمت اين دو مرغ بر سر يك معامله، ازدواج است . اين مرغ دختري به آن مرغ داده و در مقابل از وي اين ده ويران و چند ديه ويرانه ديگر را به شيربها، مي خواهد و در مقابل مرغ ديگر مي گويد برو چند مدت صبر كن اگر پادشاه ما همين باشد كه امروز است مانند اين روستاي ويران صد هزار بتو خواهم داد .

گر ملك اينست نه بس روزگار
زين دِهِ ويران دهمت صد هزار
در ملك اين لفظ چنان در گرفت
كاه بر آرد و فغان بر گرفت

شاه گر به و فغان سر ميدهد و ابراز مذمت ميكند از اينكه ظلم و بي عدالتي بجايي رسيده كه مرغان نيز بروي شهادت ميدهند سخت افسرده ميشود و بياد روز حساب مي افتد .

ظلم شد امروز تماشاي من
واي ز رسوايي فرداي من
زين گهر و گنج كه نتوان شمرد
(سام) چه برداشت (فريدون) چه برد

شاه چون بر مقر سلطنت بازگشت ظلم و ستمگري را فرو نهاد و راه عدل و داد گرفت. ملت را نوازش نمود و به اين ترتيب آوازه عدلش جهان را گرفت .

در اين داستان نقش اصلي را وزير يا مصاحب شاه دارد كه در همان ابتدا، با سخني از زبان دو مرغ شاه را اندرز ميدهد در اينجا نقش اطرافيان در تأثير گذاري بر شاه و فرمانروا را بر جسته مي سازد. اگر وزير شخص ترسو و چاپلوس بود هرگز چنان تحولي را در شاه و در مملكت موجب نمي- شد.

ادامه دارد

مسلماني موري!

حنيفه زاهد شاه جويي

مسلماني موري تاته د اسلام مقدس دين ډير لوى ارزښت دربښلى ستا رضايى د لوى څښتن رضا بللى او ستا غوصه يى د هغه «ج» غوصه جنت يى ستا تر پښو لاندى او ستا خدمت يى د جهاد معادل بللى حتى په ځينو احاديثو كى يى تاته د جنت خطاب كړى .

د خپلو اولادونو لپاره د دنيا په ټولو موجوداتو كى يى براځى ته د حسن معاشرت مستحقه بللى يى مسلمانى مورى ! لكه څرنګه چى تاته د اسلام په سپيڅلى دين كى ځانګړى ارزښت در كړاى شوى همداسى ستا په غاړه درانه مسوليتونه در اچول شوى تر هر څه له مخه ته د خپل اولاد په سالمى دينى روزنى باندى مكلفه يى ته بايد همدغه درنه وظيفه په لوړ همت او پوره ايمانداري تر سره كړى. مسلمانى مورى ! ستا لاس چى نن دغه وړه ځانګو ځنګوى دا په حيقت كى د يوه ولس د مستقل ځنګول دى

ته په همدغه لاس سره كولى شى چى د ډيرو ځوريدلو اوښكى ورپاكى كړى د ځوريدليو په زخمونو پټى وركيږدى او هغوى آسوده كړى .

مسلمانى مورى! نن چى ستا غيږه كى همدغه ناتوانه كمكى ماشوم پروت دى دا د سبا لپاره قوى، غښتلى او هوښيار زلمى جوړيږى.

په همدى ماشوم پورى د ملتونو مستقبل تړلى دى كه همدا ماشوم سر له دى ورځى تا په سالمى روزنى وروزه نو پوه شه چى ملتو نه دى د بشريت د غوښتنى سره سم په مناسبى طريقى وروزول او كه خداى مكړه هغه منحرفه تربيه واخلى نو هم پوه شه چى د ملتونو د انحراف مسوليت به تاته متوجه وى .

مسلمانى مورى!

تاته د خپل اولاد د ظاهرى او باطنى ښكلا، پاكى او سمبالښت وظيفه در په غاړه ده . لكه څرنګه چى د هغوى ظاهرى ښكلا او نظافت ته دقت په كار دى همداغه شانى د هغوى باطنى، اخلاقى او تهذيبى ښكلا ته پاملرنه ضرور ده . ستا اولاد ستا لپاره د ستا د نويو نيالګو حيثيت لرى او ته د هغوى خوا خوږى ماليار كه ته د هغوى په پالنه كى غوررو كړى، زيار وكاږى او پوره پاملرنه وكړى هغه په چه ثمر راوړى د هغوى له ثمر ته به نه براځى ته پاكى ډير نور انسانان هم برخمن شى.

مسلمانى مورى!

ستا كمكى اولادونه د سبا ځوانان جوړيږى د راتلونكى رهبران اود مستقبل مقتدايان كوښښ وكړه چى هغوى ته له خپلو پاكو شيدو سره يو ځاى، غيرت شهامت حريت مينه او خواخوږى ور ترزيق كړى هغوى له ټولو انسانى او اسلامى معيارونو سره سم لوى كړه هغوى ته د اخلاص رښتنولى وفا امانت دارى، تقوى او پوهى درسونه وركړه .

له بيكاره خويو نو د پرديو له تقليد، شخصيت او هويت بدلونى څخه هغوى وژغوره او هغوى منع كړه .

مسلمانى مورى! په معاصرى متمدنى نړى كى ډير قامونه اوسى هغوى هر يو بيل، بيل فرهنګ لرى كلتور لرى، آين لرى او مذهب لرى.

ته هم د مسلمانى مور په حيث د خپل اصيل فرهنګ خپل مقدس آئين او مهذب مذهب لاروى يى !

كه د ځمكنى كرى په هره وچه كى قرار لرى كوښښ وكړه چي خپل اولادونه د خپلو اسلامى او افغانى عنعناتو سره سم را لو ى كړى . هغوى په دى پو ه كړه چى اسلامى افغانى روايات د هغوى د ترقى نيكمرغى لاملونه دى نه د پرديو تقليد.

مسلمانى مورى!

ته هم پدى پوه يى چى د پرديو د يرغل له لاسه زموږ ودان وطن په كنډواله بدل شوى او هر څه پكى له منځه تللى . يرغل كونكيو ډير كوښښ وكړ چه زموږ د ملت اسلامى روايات دينى معتقدات او اخلاقيات له منځه يوسى خو هيڅ ونه توانيدل خو پدى هم بايد پوه شي چي ددى اسلامى معتقداتو په تحفظ كى ډير سرونه قربان شوى.

او په اخير كى مسلمانى مورى!

خپل مسلمان اولادونه د لوى څښتن«ج» په عبادت ، تقوى، او حسنه اخلاقو باندى عادت كړه هغوى د اسلامى علومو د تحصيل تر څنګ د نورو ګټورو طبيعى علومو زده كړى ته تشويق كړه د حلال كسب او حلالو كمالونو زده كړى ته يى وهڅوه د مشكلاتو په ګاللو يى عادت كړه .

د لوى خداى د دين د ساتلوپه لار كى سرښندنى ته يى اماده كړه او بالاخره د ژوند هغه لارى چارى ورته وښيه چى د هغوى د سعادت او موفقيت لامل وګرځى .

وظيفه افغانان و مشكل افغانستان

(راه حل مشكل افغانستان)

حبيب الرحمن
«الفت»
از جرمني

٣

دين اسلام يك نظام كامل اجتماعي، اقتصادي و سياسي است اسلام در تمام ساحات زندگي قوانين و مقررات خاص دارد قرآنكريم تنها براي قرائت و مطالعه نازل نشده بلكه مجموعه اوامر و نواهي است كه براي تنظيم زندگي بشر در تمام ساحات اجتماعي، اقتصادي، سياسي طبي و همه ساحات ديگر فرستاده شده و اگر قرآنكريم و شريعت اسلامي بصورت صد فيصد تطبيق شود نه تنها تمام پرابلمهاي فعلي دنيا حل ميشود بلكه تمام پرابلمهاي آينده نيز در تمام ساحات حل خواهد شد. قرآنكريم واقعاً شفاء است و تمام رنجها و مشكلات را رفع مينمايد مشروط باينكه بآن ايمان داشته و آنرا تطبيق نمايند براي يك مسلمان و يا يك ملت مسلمان حيف است كه نظام اسلام يعني نظام خداوندي را گذاشته و ديگر نظامهاي سياسي اجتماعي و يا اقتصادي را در كشور خود تطبيق كند خوبيهايي را كه اسلام دارد هيچ نظامي ندارد، يهود و نصاري اين نكته را خوب فهميده اند و به همين اساس هر وقتيكه در يك كشور اسلامي يك نظام اسلامي واقعي بوجود بيايد و يا يك جنبش اسلامي واقعي پيدا شود فوراً به سر كوبي آن اقدام ميكنند مثالهاي آن زياد است و از ذكر آن درينجا صرفنظر ميگردد.

يك مسلمان وقتيكه حرف مي- زند بايد حقيقت را بگويد و اگر مينويسد بايد حقيقت را بنويسد دوستي و دشمني يك مسلمان هم بايد به اساس اسلام باشد نه باساس قرابت، قوميت و زبان يعني يك برادر ازبك كه مسلمان است نبايد صرف به اساس قوميت هنوز هم از عبدالرشيد دوستم ويا جنرال ملك كه خاين و مليشه كمونست بودند و هرج و مرج و چور و چپاول را بوجود آورده بودند دفاع كند و هنوز هم از آنها پيروي نمايد همچنان يك برادر تاجك كه مسلمان است نبايد باساس قوميت از مسعود و رباني با وجود ارتباطات و دوستي آشكار شان با كمونستها و روسها هنوز هم پيروي كند. اين نوع دوستي و دشمني از نگاه اسلام جايز نيست ما بايد به حيث يك مسلمان زماني را كه ائتلافيها قدرت را بدست داشتند با زمان فعلي مقايسه كنيم. در زمان آنان چقدر به نواميس مردم تجاوز صورت گرفت و حال درين مدت سه سال شايد به ناموس هيچ كس تجاوز صورت نگرفته باشد در آن زمان در اثر راكتبازيهاي آنها روزانه چقدر نفر هلاك و چند خانه ويران ميشد، و حال وضع از چه قرار است . محاصره كابل توسط ائتلافيها و در زمان حكومت آنها و گشت و گذار مردم در شهر كابل به چه ترتيب بود و حالا چطور است مال و پول مردم هر لحظه غصب ميشد و حال چقدر مصؤن است . در آنوقت كسي به افغانستان داخل شده نميتوانست و اگر داخل ميشد از يك شهر به شهر ديگر رفته نميتوانست و افغانان خارج صرف تا پشاور به ديدن اقارب خود رفته ميتوانستند و حال هر افغان آزادانه بداخل ميرود و باز ميگردد و از يك شهر به شهر ديگر بدون آزار و باج دادن سفر ميكند خانه هاي مردم بدون اطلاع شان چند بار فروخته شده بود و حال هر كس بدون درد سر ملكيت خود را دو باره بدست مي آورد صد ها مثال ديگر هم درين مورد وجود دارد آيا به يك شخص مسلمان و با وجدان لازم است كه هنوز هم عقب آنان برود و يا از آنان پيروي نمايد ؟

در دوران جهاد و مخصوصاً در زمانيكه ائتلافيون قدرت را بدست گرفتند خوشبيني نسبي به شاه سابق موجود بود و علت آن هم اين بود كه زمان شاهي با زمان داؤد خان، زمان كمونستان و دوران ائتلافي رباني از نگاه آرامي قابل مقايسه نبود اما متأسفانه كه شاه مانند هميشه از منتهي محافظه كاري كار گرفته مستقيماً و عملاً هيچ اقدامي نكرد اگر شاه سابق از روش پدر مرحومش استفاده ميكرد و با كمي جرأت داخل افغانستان ميشد ميتوانست در آن وقت افغانستان را نجات بدهد اما متأسفانه كه در طول مدت جهاد و حتي بعد از آن تا پاكستان هم قدم رنجه نفرمودند و جز صدور اعلاميه هيچ كاري نكردند و نخواهند كرد . حال شرايط تغيير كرده و ديگر به شاه خوشبيني وجود ندارد و اگر اقدامي كند هم نتيجه نمي دهد و بهترين خدمت شاه سابق به وطنش فعلاً اين است كه از سياست دست برداشته و در قضيه افغانستان مداخله منفي نكند. اطرافيان شاه و امريكا از نام شاه سؤ استفاده نموده و ويرا در مواقع خاص به موقف گيري هايي وادار مي سازند كه اين موقف گيريها خلاف اراده اكثريت مردم و منافع ملت مسلمان افغانستان ميباشد و در نتيجه طبعاً بد بيني و نفرت عمومي را در مقابل شاه زياد ميسازد.

خلاصه اينكه براي مردم افغانستان كه ٩٩٪ آن مسلمان است و نظام ديموكراسي، جمهوريت، سوسياليزم و غيره در گذشته نيز نتيجه نداده و علاوتاً راه حل حكومت داراي قاعده وسيع، راه حل شش جمع دو و راه حل جرگه و جرگه بازيهاي خارج و آمدن شاه سابق نيز طوريكه بآن اشاره شد جنبه عملي نداشته و راه حل قضيه نمي باشد پس تنها يك نظام واقعي اسلامي و شريعت اسلامي كه عدالت، امنيت، مساوات و آرامي را در يك [illegible] اسلامي بوجودمي آورد و [illegible] مردم افغانستان يعني پشتون، تاجك ، ازبك و هزاره آرزوي آنرا داشتند و دارند يگانه راه حل قضيه ميباشد.

ادامه دارد

گران لوستونکی به خبر وی چی په روان ۱٤۲۰ هـ ق کال کی داسلامی نړی یو شمیر جید او متبحرو علما ، کرامو له فانی نړی نه سترگی پتی کړی او حق ته وصل شول دهغ فراق کی داشعر ویل شوی.

الحاج گوهری

له آغــوشــه ددنیــــا چــی عـالمـان ځی
له نړی بل ځــــراغــونـه دعــرفـــان ځی

په وروورو دمـعـرفـت دبوی مـــری کـیــری
مـشـایخ او علـمـا چی له جــهـان ځی

په ژړا دی شـــــــین چمن او گلکځونه
آبیـاری نه یی غـښـتلی مـالـیاران ځی

دی حدیث مـرگ دعـالِم مـرگ د عـالَمَ دی
کـرم گـومـان لکـه چی روح ددی جـهـان ځی

ترکوځه له خـالونه په جـبـین ودی؟
له محفل نه مـور نشـو نـن عا شـقـا ن ځی

اسـتـادانو دی چی گـورته کـیږی بار کړی
گـوهری اوښکی دی بیـا لکه باران ځی

در ولايـت تـخـار ...

روبرو گـــردیده و در تداوم جنگ هاي خونين مناطق قره تو زرد آلو دره آستانه تپه و سرآسيا از وجود افراد خير محمد چريك پاكسازي گرديده و قوماندان مذكور با به جا ماندن سلاح هاي خفيف و ثقيل به مركز ولايت تخار فرار نموده است .

همچنان در اين درگيري هاي خونين يك قطار اكمالاتي كه حامل سلاح هاي ثقيل و خفيف و مواد ارتزاقي و به طرف قره تو آمده بود به دست افراد قوماندان حزب اسلامي و جمعيت قرار گرفته است اين در حاليست كه تنش و اختلاف ميان قوماندانان و افراد شوراي نظار و گروه جمعيت رباني به اوج خويش رسيده و در گيري ها ميان آنان موجي از خشونت و انزجار شديد مردم مناطق تحت سلطه مخالفين كه در حالت كاملاً بي امن و ناگوار به سر ميبرند را به بار آورده است .

د مـزار شريف او ...

هيــأت ســره وكــړه په دي ترځ كي چي د جوزجان ولايت محترم مرستيال خلكو ته د خدمت اوله اسلامي هيوادو سره د اړيكو د پراختيا په لاره كي د اسلامي امارت هدفونه او پروگرامونه بيان كړل د تركمنستان له جمهوريت سره بي د اړيكو د لا ټينگښت غوښتنه وكړه .

وروسي د تركمنستان جمهوريت د هيأت رئيس په دي ترځ كي چي افغانستان ته بي د خپل سفر د هدف په باب معلومات وركړل وويل د هغه پروتوكول له مخي چي د تركمنستان او اسلامي امارت تر منځ د هيواد د شمال سيمو كي د بريښنا رسولو په باب لاسليك شوي و د تركمنستان د بريښنا د مسولينو يو هيأت د شبرغان ښار ته راغلي دي چي د شبرغان او مزار شريف د جرقدوق د تيلو او گـــازو د چان د ســـيـمي داندخـوي او خـــواجه دوكو له سروي وروسته تــاكل شويده په نژدي راتلونكي كـي د ستنو د درولو او د بريښنا د غزولو كار په دغو سيمو كي پـــيل شي چي په دغو ساحو كي به د بريښنا د مزو په غزيدو سره ددغو سيمو خلك د بريښنا له رڼانه برخمن شي.

طي اجتماعی شانداری ...

آوري زمينه كار و فعاليت و تامين امنيت در كشور توسط مسؤولين امارت اسلامي قـدرداني نمـوده و بر همكاري بي دريغ شـان در جـهت باز سـازي تاسيـسات عـام المنفعه و خدماتي كشور و تامين صلح سراسري تاكيد ورزيدند .

كانون علوم ...

افزودند : در سال گذشته از طرف مقام محترم رياست الوزراء غرض بررسي كورسهاي جديد التأسيس هيأتي تعيين گرديد. بعد از مطالعه، تحقيق و ارزيابي دقيق و همه جانبه صرف شش كورس مورد تايبد قبول شان قرار گرفت كه خوشبختانه كورس محمود هوتكي نيز از آنجمله ميباشد.

وي علاوه كرد : اگر چه كورس محمود هوتكي دو ماه قبل از مكروريان اول به جاده مطبعه نقل مكان نموده است . با آنهم درين مـدت كـوتاه تا اكنون تعـداد شاگردان ما به ٣٠٠ تن رسيده و ثبت نام جديد الشمولان همه روزه ادامه دارد. بايد گفت كه شيوه تدريس در كورس ما به كمك چارتها و وسايل محيطي به پيش برده ميشود. البته مضامين علوم ديني، الجبر، هندسه مثلثات، فزيك و كيميا و همچنان لسان

انگليسي به سويه هاي مختلف به سيـستم New Inter Comm, English 900 ذريعه استادان مجرب مسلكي با استفاده از وسايل سمعي و بصري تدريس ميگردد.

در اخير محترم استاد محمد رحيم افزودند: كورس آموزش علوم و لسان انگليسي محمود هوتكي استادان مجرب و مسلكي را در اختيار داشته و با روحيه اسلامي و وطندوستي شاگردان را تدريس و تجهيز مينمايد. ناگفته نبايد گذاشت كه استادان ما از امتيازات خوبي برخوردار ميباشند. پوليكه از مدرك فيس شـــاگردان عـايد كـورس مـــيگردد، ٥٠٪ آن طور حق الزحمه به استادان پرداخته ميشود.

تهيه كننده سيد يوسف

در ولايت هلمند ...

ولسوالي هاي گرشك و گرم سير آن ولايت مـعـروف عـمل شنيع قـمار بودند بالفعل دستگير و به ايشان جزاي شرعي دادند .

تكواندو احساس ...

نوجوانان پائينتر از ١٥ سال اهدأ مـيگردد نايل گرديدم. در سال ١٣٧٧ در حاليكه به حيث سكرتر جنرال فدراسيون تكواندو ايفاي وظيفه مينمودم از طرف استادم محترم ضيا الحق بخشي به اخذ كمر بند سياه «دان چهار» كه بلند ترين درجه در سطح كشور ميباشد نايل گرديدم.

وي مي افزايد : در جريان ٢٤ ســال فـعـاليت كلپ حيدري و نمـايندگي هاي آن بيش از ٢٠٠ هزار تن جوانان در كشور و خارج از كشور به فراگيري اين هنر رزمي توفيق يافته و بيش از ٥٠٠ تن آنان به اخذ كمر بند سياه نايل گرديده اند. بايد گفت كه كلپ ما در تمام مسابقات داخلي و خارجي مقام برجسته خويش را حفظ نموده است . افتخارات ما عبارت از دهها كپ و مدال هاي قهرماني طلا، برونز و نقره، صد ها تحسين نامه و- غيره ميباشد.

اينجانب در سال ١٣٧٢ بعد از بدست آوردن كمربند سياه به تعليم و تربيه جوانان آغاز كردم. فعلاً كانون ورزشي (تكواندوي جيد و كـوان اسـتـاد حيـدري) را در مكروريان دوم رهبري ميكنم. در چهار تايم تعداد ٣٠٠ تن جوانان و نوجوانان را تمرين ميدهم . بشير احمد پوپل، عبدالبجار اميني، حرمت بلال ياسر، غلام رسول، رامش حيدر، ايرج ، جمشيد، شهير احمد البرز، محمد اسحق سنگري، بصير احمد ، خالد، بريالي و سمير را به عنوان الگو هاي برجسته تكوآندوي افغانستان كه نامهاي پر افتخار شان مايه سربلندي براي من، انجمن قهرمان ما و فدراسيون تكواندوي كشور ميباشد نام برد. نامبرده در اخير افزودند : تكواندو در حيات اجتماعي كه در برگيرنده، سلوك، كركتر و اخلاق جوانان ورزشكار ميباشد نقش مهمي را بازي ميكند و جوانان را به اعتماد به نفس راهنمايي نموده جوانمردي، دليري و متانت را در آنها ارتقاء ميدهد.

سيد يوسف

محترم كفيل ولايت ...

باختر خبر داد : محترم قاري عبدالباري عايد كفيل ولايت خوست ديروز ضمن باز ديد از مناطق سرحدي آنولايت در اجتماع اقوام و قبايل مناطق لكن ، شبيك ، سپري و اوبك اشتراك ورزيده و طي صحبت خويش اهداف و برنامه هاي عام المنفعه امارت **اسلامي را به حاضرين توضيح و از** ايشان خواستند تا در باز سازي و عمران كشور مسؤوليت شانرا ادا نمايند.

سپس عده يي از موسفيدان و متنفذين اقوام و قبايل متذكره ضمن حمايت از پروگرام هاي امارت اسلامي بر همكاري شان در جهت عمران و آبادي كشور تاكيد ورزيدند.

تهديدات اسرائيل ...

نخواهد داشت .

بر طبق گزارش هاي خبري حسن نصر الله گفته است كه هدف رژيم صهيونيستي از اين تهديد ها زمينه سازي و سر پوش گذاشتن بر شكست هاي رژيم صهيونيستي و مزدوران آنها در برابر حملات مجاهدين است .

ايهـود بارك صـدراعظم اسـرائيل روز پنجشنبه گفته بود كه هر گونه اقدام نظامي در جنوب لبنان با اقدامات جدي تل ابيب روبرو خواهد شد .

جراحان فرانسوی ...

خود را چار سال قبل در يك حادثه از دست داده بود در يك شفاخانه در شهر ليون فرانسه پيوند زده شد. يكي از اعضاي پنجاه نفري تيم عمليات مذكور كه هجده تن آنها را جراحان تشكيل ميدادند بعد از سپري شدن بيست و چار ساعت از عمليات مذكور گفت اين عمليات پيوند دست ها شخص مذكور **هفده ساعت طول كشيد و فعلاً وضع** بيمار خوب است به اساس اظهار متخصصان امور طبي براي آنكه موفقيت اين عمل جراحي معلوم شود به گذشت چندين ماه نياز است . اين بيمار كه سي و سه سال دارد چار سال قبل در يك حادثه دو دست خود را از دست داده بود .

ريچارد هوبروك ...

ديوي احتمالي كودتا په باب سخته انديښنه ده.

ريچارد هوبروك ووېل د اندونيزيا اردو غواړي له دي لاري حخه په ختيځ تيمو كي ديوحي افرادو په جنگي جنايت دتورن كيدو مخنيوي وكړي. ويه گورو چي د اندونيزيا اردو ددغو افرادو دمحاكمي په وړاندي حه ډول غبرگون سيي ژبات كښونكي ددغو پوځيـانو ترمنځ د اختطاف په خاطر په اندونيزيا كي ديوي پوځي كودتا امكان ردوي

د ايكوادور چار واكی ...

دجمهور رئيس د استعفا غوښتنه كړي.

دايكوادور دجمهور رئيس پر ضد اعتراضونه او انتقادونه بوه اوونۍ مخكي وروسته له هغي زيات شول چي ده ددغه هيواد د سيمه ييزو پيسو پر ځاي دالر رواج كړل .

جنگ ميان مجاهدين ...

به جمهوريت هاي همسايه انگوشيا و داغســتان شده است و اين مهاجرين بنا به بمباردمان هاي بي- وقفه نيرو هاي اشغالگر قادر نيستند به وطن شان باز گردند . به گفته رئيس جمهور انگوشيا بيشتر از يكصدو هفتاد هزار مهاجر چيچيني در انگوشيا در شرايط بسيار تأسف آور در سرماي تحت صفر زنده گي ميكنند .

از ين گزارشها چنين معلوم ميشود سازمان هايي كه پيوسته دم از حقوق بشر ميزنند كرو كور شده اند زيرا تا كنون بخاطر رهايي مردم چيچن از اين وضع رقت انگيز اقدامي نكرده و حتي مهر سكوت بر لب بسته اند.

د گوون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ مياشتني	كلني
پاكستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريكا	US$75	US$150

تبصره

استاد سياف څه وايي او بيا څه کوی ؟!!

دمبارک کوچنی اختر په راسیدو سره زمونږ دمجاهد ملت په نامه د نړی له گوټ گوټ ځخه دکورنیو او بهرنیو سیاسی او ملی شخصیتونو له اړخه دمبارکی او ښوهیلو پیغامونه خپاره شول چی هریو یی دقدر او ستاینی وړ دی خو په دی ډله کی **داستاد سیاف له اړخه خپور شوی پیغام** ډیر دحیرانتیا وړ وو د استاد پیغام نه دا چی له حقایقو سره سر نه خوری بلکه دا پوښتنی هم راپر سیره کوی چی آخر استاد دا څه وایی او په عمل کی بیا څه کوی ؟!! د قول او عمل دومره تضاد خو فکر نه کوو چی په یوه مسلمان کی سره را غونډ شی دا چی استاد سیاف دومره دوه رنگی ته ملا تړلی نه پوهیږو چی دلیل یی څه دی او هغه په کوم منطق ځانته د داشان ضد او نقیضو کړو وړو او خبرو جرأت ورکوی ؟

استاد سیاف په خپل پیغام کی ویلی چی تر اوسه په هیواد کی دجهاد اهداف ندی پوره شوی نو ځکه دی مصروف دی که نه د یوه ځاځکی وینی په تویدو هم خوښ نه دی . که رښتیا هم داستاد سیاف د زړه خبره هم داوی نو د حقایقو په رڼا کی ویلای شو چی ممکن هغه څه عقلی ستونزی ولری او دشعوراوبدو تفکیک په نشی کولای . که نه هیڅکله به پردی نه وو رضا شوی چه داسلامی امارت پر خلاف چی اسلامی نظام یی پلی کړی د هغه چاپه ډله کی ودریږی چی له جهاد سره یی خیانت کړی دفساد په خپرولو کی یی هڅی کړی . د روسانو په چوپړکی خپل عزت لټوی ، کمونیستـــان یی پر شاو خوا راټول دی او هره گړی دهیواد دتوټه کیدو او دافغان مجاهد ولس دهیلو د پوره کیدو خلاف جگړی تودوی . جهادی قوماندانان وژنی دشریعت دتطبیق مخنیوی کوی او دپردیو لاسوهنی ته په هیواد کی لاره پرانیزی دا چی استاد سیاف وایی بوڅه او کوی بل څه ، نو که دښو او بدو دتمیز ادراک یی له لاسه نه وی ورکړی او داهر څه په پوهه وایي او کوی نو بیا دی کتاب الله او احادیثو دنبی کـریم (ص) ته رجـوع وکـړی چی داکـارونه دچا دی او ځوک پورته ډول تنبی نیسانی لری ؟!!

دافغان میړنی ولس جهاد خو دکمونیزم دگړداگی حکومت او سره لښکرو دتیری پر خلاف دیوه سوچه شرعی نظام دټینگښت په نیت او هیله پیل شوی وو همدارنگه دهیواد خپلواکی ، ملی او شرعی حاکمیت ، دځمکنی بشپړتیا او ملی یووالی ساتنه دجهاد له مهمو غوښتنو ځخه وه او په پای کی دیوه سرلوړی اسلامی ، آزاد یو موټی او پرمختللی افغانستان جوړیدل هم دجهاد په اهدافو کی شامل وو ، اوس چی استاد د روسانو دښکاره چوپړ گر (مسعود) ترڅنگ داسلامی امارت او افغان مجاهد ولس په خلاف سنگر نیولی نه پوهیږو چی استاد هلته د جهاد کوم ارمانونو دپلی کولو په نیت دیره دی ؟ دهیواد له نوی فیصده زیاته خاوره کی خو اسلامی امارت دشریعت په تطبیق ، دسولی په ټینگښت دملی وحدت دبیا احیا او دهیواد دخپلواکی او ځمکنی بشپړتیا په تامین سره دجهاد ارمانونه تطبیقوی ، استاد سیاف دکمونیزم او سره پوځ پرخلاف او داسلامی نظام دټینگښت په هیله دافغان مومن ولس دجهاد غوښتنی یادوی هغه خو همدا دی چی داسلامی امارت لخوا عملی کیږی ، او که له استاد سره کوم نور اهداف وی کیدای شی افغانان په ترینه خبر نه وی نو به یه داوی چی استاد هغه ښکاره اعلان کړی او که نه نو داســـتاد اوسنی خبری او دریځ خو په لا یتناهی درجی دهغه پر حقیقت دښمنی او دوکه بازی باندی دلالت کوی چی دده په شان یوه استاد ته ددومره فعلی او قولی تضاد اختیارول بالکل نه ښایی !!

استاد باید پردی متیقن وي وی چی روسان ، کمونیستـــان او دهغوی پخوانی اندیوال مسعود هیڅکله هم دافغانستان او اسلام پر لوړتیا او بقا راضی نه دی ، نو که استاد دجهاد دارمانونو دتطبیق په هیله دهغوی تر څنگ ولاړ وی نو داستره اشتباه ده چی باید استاد ځان پری پوه کړی او که دهغه سترگی څه شخصی غوښتنو ، سیاسی **سیالیو اویاهم حسد تیاره کړی وی نو ښایی چی دوستان یی توصیه ورته وکړی او دترکستان له لوری یی کعبی ته مخ راواړوی ، او که هیڅ نه منی نو بیا به صبر ورته وکړو چی خیرالماکرین خدای (ج) څه معامله ورسره کوی او دا قولی او فعلی دوه رنگی دی له کوم برخلیک سره مخامخ کوی ؟!!**

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Sageb
Printed by: Emirat Printing Press